مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲/۱۲/۱۰

# ایډیولوژیک افراط څنګه انساني عاطفه وژني؟

لاندې تصویر وګورئ، د کوم انسان به ورته له سترګو اوښکې رانه‌شي؟

پرته له هغو، چې ایډیولوژیک افراط، د واکغوښتنې لیوني حرص او سیاست یې عاطفه وروژلې وي.

ایډیولوژیک افراط له انساني ارزښتونو سره څه لوبې کوي؟ دا یو پراخ ارواپوهنیز، ټولنپوهنیز، پیداګوژیک او بشرپوهنیز بحث دی.

په لرغونیو دینونو کې به ځینو ولسونو خپلو خدایګوټو ته انسانان قرباني کول. په مصر کې د یوه غره په یوه تور سوري کې یو مبهم خدای اوسېده، خلکو فکر کاوه، چې د دغه خدایګوټي د ښکلیو پېغلو نڅا خوښېږي. هرکال به تر ټولو ښکلې پېغله دغه غار ته وروستل کېده او د تل لپاره ورکېده . تر داسې بېرحمه قربانۍ روسته به خلکو د باران او پریمانې دعاګانې کولې. له یوه مصري پلار څخه روایت دی، چې ویل یې:

خپله لور راباندې ډېره ګرانه ده، خو که د هغې په قربانۍ د غار خدای خوشاله کېږي، زه به یې وزغمم.

ځینو ولسونو د خپلو خدایانو لپاره د قربانۍ ځانګړي ځایونه لرل، هلته به یې یوه لویه ډبره ایښې وه. قرباني به یې راخملوله او غاړه به یې پرې کړه، چې د هرې قربانۍ وینه به ډېره وبهېده او اوږده لیکه به یې جوړه کړه، مبهم خدایګوټي ته یې د منښت نښه وه او خلک به خوشحاله ول.

خلکو د وچکالیو، ناروغیو، سیلاوونو او توپانونو پرمهال خدایګوټو ته قرباني کولې. د نرینه (مذکرو) خدایګوټو قربانۍ به ډېر ځله ښکلې پېغلې وې، چې سینګار کړې به یې د کوم خدایګوټي د نښې یا پژې (مجسمې) پښو ته حلالولې .

قرباني یوازې حلالول نه دي. له خپلو انساني حقونو محرومول هم تر وژلو بدتره قرباني ده. ایډیولوژي او ناسمه عقیده څنګه له انسان څخه عاطفه او رحم تروړي؟ دا د بشریت یوه خورا لرغونې بدمرغي ده.

ایډیولوژي او سیاسي ضد له مور څخه څنګه عاطفه غلاکړې ده؟

څنګه په خپلو معصومو او پاکو نجونو رحم نه کوو؟

څنګه یې د بې‌بنسټه باورونو د ډبرینو خدایانو پښو ته حلالوو؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ټولي هغه پوښتني دي، چي د دغو نجونو د اوښکو په کرښه کرښه لارو لیکل کیږي، خو موږ دومره بیٰهمته، ډارن او زبون یو، چي ان ځواب لټول یي هم کفر ګڼو.

د تکفیر بل نوم د ولسونو د عقلانیت سپکاوی او د هغوی د مرییتوب هڅه ده.

که یي نه منئ، دا تصویر وګورئ او فکر وکړئ
!


ذما پلار جان او مور ته
زه نن ډیر خپه یم ځکه ماته مي معلم وویل چي تاسو نور درس
نه شئ ویلی نو زه مو ولې جلکۍ پیدا کولم
چي جلکۍ یم نو ولې نسم به مکتب ته چي او زه نه ولې
ماته ژړا هم راځي



فاعتبروا یا أولي الأبصار

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ